مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: عزيز نسين
ژباړن: احسان الله ارينزی
۲۰۲۶/۰۲/۱۱

# ميني ژوب

## د «وړی مين» کتاب دويمه کيسه

خدايه... د ميني ژوب د جوړونکي مور او پلار وبښي. که پوښتنه وکړئ چې ولې؟ ... نو غوږ ونيسئ او کيسه واورئ:

....هغه روځ له کاره وروسته دېر ستړی- ستومانه کور ته ستون شوم. ما ویل راځه هلکه کومه پياله چای به وڅښي، يا يوه سترگه خوب به وکړي او دا ستړيا به لیرې کړي.

خو له ما مخکي زموږ په کور ټکه لوېدلې وه!...

خوابني مې په وره کي سوټي په لاس ولاړه وه... زما غوږ سلام يې بې ځوابه پرېښود او سترگي يې برگي کړې:

- او سنډا! ته هم زوم يې؟!

- څه شوي مورجاني؟ زوم نه يم څی(موم) يم.

- څه شوي وای او مومه!... ته په دې پوهېږې چې ښځه لرې که نه؟... په کور کي دې ځوانه او ښکلي ښځه تا ته په تمه وي؛ خو ته سترگي نه لرې، که ما تا غوندې پاگل مېړه درلودای، په خپلو منگولو به مې وژلی وای!

زه لا نه وم پوه چې څه مې کړي او گناه مې څه ده؟ او په تمه وم چې خوابنې به مې اوس تر دې پريمانه اپلتو وروسته، اصلي خبره وکړي؛ خو دې زما ښحې ته ناری کړې:

- .. او ... سپکی... ټوله پره ستا خپله ده... آخر دا سنډا هم مېړه دی چې ته ورته ناسته يې؟

دا لومړی ځل نه و چې خوابنې مې سنډا، پاگل يا ... بللم، هغې به د روځې يا اونې څو ځلې په دې نومونو يادولم، او پوره ورسره روږدی شوی وم!

په دې ورځ مې چې بيا دا نومونه دوه- درې ځله واورېدل، ساتنکی شوم،سترگي مې برگي کړې او چيغه مې کړه:

- وشرمېږه، لږ حيا وکړه.. همدا سنډا، همدا پاگل آخر ولې؟

خوابنې مې چې د داسې غبرگون تمه نه درلوده، هکه اريانه شوه او هېڅ يې ونه ويل. د خوابنې له چوپوالي سره جوخت مې د غږ درجه نوره هم لوړه کړه:

- آخر څه شوي؟... څه مې کړي؟.... گناه مې څه ده؟!....

خوابنې مې چې لاسونه يې په خپلو بدوډو اينيې وو او لکه جنگي چرگ غوندې ببره ولاړه وه، په کنايه راته وويل:

- وای... تر خدای مې جار کړې. زه خو ايله اوس پوه شوم چې ته ړوند هم يې!

شا او خوا مې په ځير وکتل. ما ویل په کور کي هرومرو کوم لوی کار شوی؛ خو زه ترې بې خبره پاته يم!....

- او بدمرغه، سترگي وغړوه، وگوره!...

- څه شی ووينم؟!!

خوابنې مې زما ښځې ته گوته ونيوه چې د خونې په کونج کي، د نانځکي په شان غلي ناسته وه، پښې يې يو په بله اړولې او ورو- ورو له خندا نه شنه- شنه کېده.

- سترگي وغړوه ړوند شي.. وگوره چې ښحې دې ميني ژوب اغوستی دی...

دا وخت په اصلي خبره پوه شوم او په خندا مې وويل:

- واه- واه... دا ده ښکلا... څومره ورسره ښه ښکاري...

ښځې مې وويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- خوار شې... عجب ښکلی یې چې خاندې هم!!
خواښې مې دا خبره بشپړه کړه:
- ښه وایې لورې ... خواږه او خوندور انګور تل د ګېدړو په برخه وي!
... او ما ته یې وکتل:
- اورې او سنډا... ارمان زما د دې ښکلې لور چې ستا ګېدړ په برخه شوه... ته یې مینې ژوب ته وګوره... په ځان کې یې خاندې.... او ته دې هغه خپل ځورند پتلون پورته کړه چې لوېږي!
کله مې چې پتلون پورته کړ، خواښې وویل:
- خوله دې ماته شه سړیه... ولې دې پټه نیولې ... یو څه خو وو وایه.. ښځه دې په تمه ده...
- ډېر ښه کمیس دی؛ خو ما ته لږ لنډ ښکاري!
خواښې مې په زوره وخندل:
- زه پوهېدم.. زه پوهېدم چې ته سنډا په مینې ژوب نه پوهېږې... نوم دې ورك شه سړیه ... زه خو دې لیونۍ کړم، خوله به دې ماته شي که وواییي(واه...واه...)، نه شرمېږي چې وایې (... لنډ دی) ته په څه پوهېږئ؟ هره ښځه خو مینې ژوب نه شي اغوستی.. زما اروابښاد مېړه به هر وخت ویل: (.... ستا پښې د مرمرو دي) زما لور هم ما ته ورته ده، دواړه پښې یې بلوري دي. کټ مټ زما په شان! خدای ببښلي به په کور کې د پرتوګ اغوستلو ته نه پرېښودم او ویل به یې:
(... ګراني زما د غرمنۍ او ماښامنۍ په ځای، دا خپلې دواړه ګلالۍ پښې لوڅې ساته... ستا د پښو په لیدلو مړیږم)...خدای دې پرې ورحمېږي.. د ځنکندن په وخت کې یې هم زما پښو ته کتل...!
زه پوه شوم چې خبره به اوږده شي... ځکه مې ځان غلی ونیو... مازدیګر چې له خوبه پاڅېدم، ګورم چې د ښځې لمن مې پنځلس سانتي نوره هم لنډه شوې ده!...
خواښې مې وویل:
- څنګه ده؟ ... څومره ښه ښکاري؟
ما ویل که (خو) پکې وباسم؛ نو بیا به هماغه پخوانۍ ښکنځلې واروم؛ ځکه مې ځان غلی ونیو:
- ډېر ښکلی دی!!...
- ټوکې کوې که رښتیا وایې؟!
- نه بابا.. ټوکې به ولې کوم، رښتیا وایم.
خواښې مې د منني په توګه وخندل او وې ویل:
- نو چې داسې ده او ټوکې نه کوې، ځان برابر کړه چې چکر ته لاړ شو.... ته به هلته وګورې چې خلك زما د لور ښکلا څومره په خوږه ژبه ستایي... هلته به ته پوه شې چې خدای څومره لویه خزانه درکړې ده... خو ارمان چې ته یې په قدر نه پوهېږې!...
درې واړه له کوره ووتو... ډېرو نارینه وو زما د ښځې لوڅو پښو او لنډ کمیس ته کتل، وینې مې له غیرت نه په جوش راغلې وې!... د خواښې خبرو مې د دې جوش لمبې نورې هم ډېرولې:
- ... ودې لیدل... نارینه وو ته ځیر شه، نه مې ویل... اوس یې حساب کړه چې څو تنه راپسې دي!...
شا ته مې وکتل،هغې رښتیا ویل... ډله خلك راپسې وو...خو نه پوهېدم چې هغې ته څه ځواب ورکړم...!
خواښې مې په ډېر غرور وویل:
- سړیه زما د لور په قدر پوه شه...
وروسته یې خپلې لور ته وویل:
- لورجانې! ملا دې لږ وخوځوه.
هغې د کوکي نانځکې په شان د خپلې مور خبره ومنله. د ملا خوځېدلو یې د نارینه وو په زړونو اور بل کړ... تر اوسه یې یوازې په کتو ځورولم؛ خو ژر یې کږې وږې خبرې هم پیل کړې:
- کوناټې نه دي... د ژرندې پلونه دي!!!
- پښې یې ګوره... ته به وایې چې له مرمرو څخه جوړې دي!...
- آخ... چې څه ملا ده!...
خواښې مې په ډډه ووهلم:
- سنډا اورې؟!
- هو ... کله چې کور ته ورسېدو. په کمیس به یې یو تاویز ځوړند کړم چې له بدو سترګو یې وساتي!...
دا زما په کږه خبره پوه نه شوه او وې ویل:
- شاباس... هرومرو دا کار وکړه... که چېرته زما دا ناشولته لور په تا پك پمن نه وای مینه شوې، اوس به د کوم غټ وکیل، وزیر یا پروفیسر ښځه وای!
- کېدای شي...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

- کېدای مېدای نه غواړي؟! ربښتیا درته وایم... همداسي نه ده لوري؟!...
- هو مور جاني...
څه سر مو خوړوم، په ډېر کړاو ښاري بس ته وختو او ځانونه مو کور ته ورسول... جامي مو لا نه وې بدلې کړې چي خوابښي مي بیا د ځان ستایل پیل کړل:
- څه پېنې مي درلودې... د مرمرو وې د مرمرو!
د شپې تر دولسو بجو پورې هغې خپلې پېنې وستایلې. ښایي تر سبا به ګډه وای° خو زه ترې پاڅېدم او د خوب خوني ته لاړم.
سهار چي له خوبه پاڅېدم هك آریان شوم... خوابښي مي هم میني ژوب اغوستی و!!!
په ما یې زېری وکړ:
- احمدخانه..دا کمیس ښنګه دی؟!
په ډېره ویره مي ځواب ورکړ:
- ډېر ښه دی؛ خو لږ اوږد ښکاري!
- نه بچیه... تر دې لنډ مي له عمره سره نه ښایي!!
- پېنې دې ربښتیا هم ښکلي دي!!
خوابښي مي خوشحاله شوه:
- که ستا خوښه وي، کمیس به دوه سانتي لنډ کړم؟!
- څلور سانتي یې لنډ کړه!!...
خوابښي مي زما ښځي ته وکتل:
- لورې ...مېړه دې ورو- ورو سړی کېږي!
وروسته یې په داسي حال کې چي خپلې سترګې په سلایي تورولې ما ته وویل:
- نو مازدېګر وختي راځه چي سینما ته لاړ شو...
مازدېګر درې واړه روان شوو... په یوه مټ پورې مي خوابښي او په دا بل پورې مي ښځه نښتي وې. له ډېر خوشحالی نه په جامو کي نه ځاییدم؛ ځکه زه ډاډه وم چي خوابښي به مي دومره ستغی سپورې واوري چي زما زړه به پرې یخ شي...
خوابښي مي وویل:
- ولې داسي نېغ روان یې؟؟
ښځي مي وویل:
- مورجاني زه مي هم ملا وخوځوم؟...
- او سنډا، نېغ مه ځه چي موږ ځانونه نه شو خوځولی... ما ته وګوره او ټګ زده کړه!
اړ وم... څه مي کړی وای... کوږ کېږ روان شوم..پنځلس- شل ګامه لا نه وم تللی چي خوابښي مي چیغې کړې:
- او سنډا... په ما پورې مه نښله...
- ښښه غواړم...
هغه نارینه چي نن راپسې وو تر پرونیو دا ډېر وو!
ویناګانو یې هم له پرونیو څخه توپیر درلود...
خوابښي مي له خپلي لور څخه پوښتنه وکړه:
- څو دي بچی؟!
- مورجاني دوه ویشت...
- ها... هه.. پرون دوولس وو، دا لس زما له پاره راغلي!...
د یو سپین سترګي ځوان غږ مي تر غوږ شو:
- اوهو... کافره د ستوري په شان بریښې...
خوابښي مي ورو وخندل:
- ما ته وایي.. ربښتیا هم چي د ستوري په شان ځلېږم لوری...
یو بل ځوان وویل:
- آخ... له پونډیو دې جار شم ګلالۍ!...
- ما ته وایي او سنډا ... هه...؟
- ټول تا ته وایي، ډاډه اوسه بې بې...
- چي داسي ده نو سبا ته یې لس سانتي نور هم لنډوم!...
- ډېر ښه کار به وشي!

لنډه دا چې زما د خوابنې مینې ژوب هره روځ دوه- دوه سانتي لنډیده.. آخر مې پرون داسې یو ښه زیری واورید چې نژدې یې زما زړه په ټپه درولی و!...
د پُست او تلګراف پخوانې رییس، زما د خوابنې په لنډ مینې ژوب مین شوی او له سپین ږیرو سره راغلي و!
زما خوشالي ډېره وه، د تلګراف د رییس هرکلی می وکړ اوهغه مې په دې تمه، چې ما به له دې اسماني بلا څخه وژغوري. په غېږ کې ونیو او څو ځلې مې ښکل کړ:
- ډېر مبارك کار دی جنابه... خدای مو نیکمرغه لره.
همدا وجه ده چې زه د نورو نارینه وو په شان چې مینې ژوب بد ګڼي، دا لنډه جامه نه غندم او دا دعا کوم چې خدای دې د مینې ژوب لومړنی جوړونکی ،همغسې چې زه د یوې لویې بلا له منګولو څخه وژغورلم، له سلګونو بلاوو څخه په امان کې وساتي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ